# افـــــغـــــــــــا نـــــستــــــــــــان

دافغانستان اساسی قانون واېي اسلام ددولت دين دی او هيڅ قانون داسلام دمقدس دين د عقايدو اومقرراتو، مغاير اومخالف نشی جوړېدلی. په ۲۰۰۴ مېلادی کال کې، اساسی قانون داسلام شيعه اوسنی مذهبونه په مساوی حېثيت قبول کړل. اساسی قانون اعلان کوی چې " ...دنورو اديانو پيروان ازادی لری چې په خپله عقيده عمل وکړی او خپل دينی شعاير دقانون دمقرراتو په حدودوکې عملی کړی."

حکومت ېو څو محدود گامونه اوچت کړيدی چې دينی ازادی زياته کړی، خو ېو شمېرجدی ستونزې لا په دې برخه کې پاتی دی. افغانستان لاتراوسه د ۳۰ کلونو نه زياتی مرگ ژوبلی او تشدد له پړاو، او دروان بغاوت د ځور او کړاونه د رغيدو په حال کې دی او د ډيرثبات او ډيموکراسی په لور ېې خپل ېون ته ادامه ورکړيده.

د پخوانی شوروی اتحاد سره د جگړی د کلونو اغيزې، کورنی شخړې، دطالبانو حکومت، دبهرنيانو دنفوذ او خارجيانو دانگيزو خلاف عمومی شکوک او شبهات، لاتراوسه پورې کمزوری ډيموکراتيک موسسات، په دغه هېواد کې د پرمختگ د موانعو په توگه موجود دی. د مذهبی لړکيو خلاف، د زغم او تحمل نشتوالی، دهغوی د ځورولو او کړولو سبب شويدی او کله کله ېې دهغوی خلاف دمرگ ژوبلی او تشدد ېڼه هم غوره کړيده. هغه مسلمانان چې دهغوی په برخه کې داتصور موجود وی چې په اسلامی اصولو او حدودو عمل نه کوی ، هغوی هم کله کله دعدم تحمل او تشدد سره مخامخ شويدی.

د ۲۰۰۹م کال په اپرېل کې، دافغانستان جمهوررئيس حامد کرزی، هغه کورنی قانون لاسليک کړ چې دشيعه اقليت په خاطر، دکورنی ژوند د انتظام لپاره جوړشوی و. دا قانون د اساسی قانون هغه مقررات تعمېلوی او د شيعه اقليت هغه حقوق پيژنی چې واېي خپل شخصی او کورنی مسايل د خپل مذهب د فتوی گانو او قانون سره سم ترتيبولی شی.
په دغه قانون باندی په دی سبب ډير انتقادونه وشول چې د ښځو په حقوقو باندی پکی ډير بنديزونه موجود وو. دافغانستان مدنی ټولنو او نړيوالو شريکانو ېې پردغه قانون باندی کلک انتقادونه وکړ. د افغانستان جمهوررئيس ومنله چې ددغه قانون تعمېل، ترهغه وخته پورې وځنډوی چې د عدليې وزارت ئی له سره وگوری او تعديلات پکی راولی. ددی رپوټ د ليکلوترورروستی گړی پورې لا د نويو تعديلاتو کار روان و.

ددغه هېواد نفوس تقريبا له ېوې مخی مسلمانان دی. غيراسلامی اقليتونه په دوامدار ډول د مورمېری دسلوک او ځورولو سره مخامخيدل. له اسلام نه ا ووښتل، د سنيانو اوشيعه گانو داسلامی علماو له خوا او د نورو ډير اتباعو له خوا داسلامی عقيدی اوشريعت نه مخالف

اومغاېر ګڼل کيږی. په خپله په مسلمانانو کې د مختلفو مذهبی طاېفو سره اړيکی ساتل ګران کاردی . په تاريخی لحاظ د شيعه لږکيو (اقليت) سره د سنی ډيرکيو (اکثريت) له خوا دمورمېری له سلوک نه کار اخيستل شويدی.

دمورمېری سلوک لا هم روان دی. که څه هم ځاېي سکان او هندوان اجازه لری چې په ښکاره په خپل مذهب عمل وکړی، خو له داسی ستونزو، لکه د خپو مړو د سوځولو، لپاره دمځکی اخيستلو سره مخامخ کيږی. په تاريخی لحاظ د حکومتی وظاېفو د لاسته راوړلو په برخه کې هم له تبعيض سره مخامخ شويدی. همدارنګه، د لمانځنو په غټو مراسمو کې هم له توپيري سلوک سره مخامخ شويدی. ډير ځاېي عيسوېان په ښکاره خپل عقاېد نه ښرګندوی او نه په ګډه راټوليږی چې په ښکاره باندی عباد ت وکړی.

دامريکا حکومت په پرله پسی ډول، د حکومت له چارواکو سره د دينی آزادی په برخه کې بحث کوی؛ دا د حکومت دهغی عمومی پالېسی برخه ده چې واېي بشری حقوق پرمخ بوزی. دامريکا سفارت، امريکا ته د خپلو پروګرامونو له لارې د سياسی ، مدنی ، او دينی مشرانو ليږلو ته ادامه ورکوی. د بيارغونی بوشمېر ولاېتی ډلو (PRT ) دامريکا دنظامی قوماندانانو دعاجلو مرستو د پروګرامونو له لارې له مدرسوسره مالی مرسته کړيده او دهغو په ترمېم کې يې برخه اخيستی ده.

**اوله برخه : په دينی لحاظ نفوس شمېرنه**

افغانستان ۶۰۲،۳۵۶ مربع مېله ځمکه لری او دخلکو شمېر يې تقريبا ۳۱ مليونو ته رسيږی. له مذهبی پلوه، دخلکو د شمېر اندازه په اعتباری ډول نده معلومه، ځکه چې په ټول هېواد کې، له ښولسېزو راهيسی، احصائيه نده اخيستل شوی. ددې هېواد کتونکی اټکل کوی چې په سلو کې ۸۰ کسان به سنی مسلمانان وی او په سلو کې به ۱۹ کسان شيعه مسلمانان وی. نوری مذهبی ډلی دنفوس له يوفيصد نه هم کمی برخی تشکيلوی.

د مذهبی اقليتونو دخپل اټکل له مخی تخمينا ۴۹۰۰ سکان، ۱۱۰۰ تنه هندوان، او تر ۴۰۰ سوو نه زيات بهائيان په افغانستان کې موجود دی. دعيسوېانو، يوپټ کوچنی اقليت هم شته دی چې تخمينی شمېريې له ۵۰۰ نه نيولی تر ۸ زرو پورې رسيږی. پردی سر بيره، د يو بوشمېر نورو مذاهبو د پيروانو وړې وړې ډلی، شته دی چې زياتره يې خارجی بودائيان دی. په افغانستان کې، يو، پيژندل شوی يهود هم موجود دی.

په افغانستان کې، په عنعنوی ډول، ترټولو ستر دين اسلام دی. او ترټولو ستره مذهبی ډله سنی مسلمانان دی چې د حنفې فقهی پيروی کوی. له تيرو ۲۰۰ کلونو راهيسې ددغه هېواد د

نفوس زیاته برخه دحنفي فقهي ددیوبند دعلماو  د تفسیر او تعبیر تر اغیزو لاندی ده. د آسیا په لویه وچه کې،  ددیوبند دارالعلوم، په دیوبند کې د سنی مذهب او طریقې ډیر وتلی تعلیمی مرکز ګڼل کیږی. دافغانستان ډیرو سنی او دینی عالمانو یا پخپله په دیوبند کې دینی تعلیم حاصل کړیدی او یایې له هغو علماو نه زده کړه کړیده چې هغوی په دیوبند کې درس ویلی و. په افغانستان کې بنایسته غټ اقلیت، داسلام په  روحانی طریقه یا تصوف باندی  هم عمل کوی.

تصوف په بوشمیر داسی  طریقو باندی  تمرکز کوی چې په هغو کې د سنی اوشیعه وروړ ولی هم  شامله ده او دواړه د داسی دینی مشرانو پیروی کوی چې په زړه پورې  شخصیت او جذابیت لری. په شلمه پیړۍ کې په بوشمیر سیمو کې، دوهابی اسلام د تعبیراو تفسیر نفوذ زیات  او خپور شو.

په عنعنوی ډول، د مشابه مذهبی ډلو پیروان په بوشمیر خاصو سیمو کې سره راټول شویدی. بوشمیر ډلی په زورباندی له خپل ځای نه دداخلی امنیتی دلایلو په نظر کې نیولو سره،  او یا دا چې دکرنی زمکه او یا څړځای ورته برابر کړی، بل ځای ته کډه کړی شویدی. په سنیانو کې پښتانه په جنوبی اوختیځو سیمو کې ډیرتمرکز لری. هزاره ګان په هزاره جات کې پراته دی. دغه سیمه غرنی ده او د بامیانو دولایت په شاوخواکې پرته ده.

شمال ختیځ ولایتونه په عنعنوی ډول داسمعیلیانو داستوګنی مراکز ګڼل کیږی. نوری سیمی لکه  کابل چې، دافغانستان پایتخت دی، دنفوس په لحاظ ډیر مخلوط دی. په کابل کې سنیان، شیعه ګان، هندوان، سکان، اود بهائې مذهب پیروان ژوند کوی. د افغانستان په شمال کې د مزارشریف په ښار کې هم سنیان اوسیږی چې په هغو کې پښتانه، ترکمن، اوزبک، او تاجک په ګډه سره ژوند کوی. په مزار کې هزاره ګان، قزلباش او اسمعیلی شیعه ګان هم اوسیږی. په تیرو وختونو کې، دهندوانو، سکانو، بهائیانو، یهودانو او عیسویانو وړې ټولنی په افغانستان کې اوسیدلی. که څه هم ددغوټولنو خلک، د کورنی جنګ او طالبانو د حکومت په وخت کې له افغانستان نه نورو ځایونو ته، کډه شول. د طالبانو د دوران په پای کې دغیراسلامی ټولنو د غړیو شمیر د سوونو په اندازه  اټکل کیده. دهندوانو او سکانو وړی ډلی له افغانستان نه، ونه وتلی. خود طالبانو د حکومت د راپرزیدو نه وروسته ددینی اقلیتونو بوشمیر کسان بیرته راستانه اوزیاتره په کابل کې میشته شول.

نورستانیان چې یوه وړه خو مشخصه قومی اوژبنی اقلیت ډله ده، دختیځ په یوه غرنی سیمه کې اوسیږی. هغوی د مشرکانو دیولرغونی دین پیروی کوله، خو د ۱۹می پیړۍ په وروستیو کلونو کې مسلمانان شول. بوشمیر  غیردینی اعمال دکلتوری رواجونو په توګه اوس هم ژوندی پاتی شویدی او عمل پرې کیږی، خو نورستانیان مسلمانان دی.

په کابل کې دسکانو د عبادت دوه فعالې گوردوارې ( عبادت ځایونه) موجودی دی. دهندوانو شپږ فعال مندرونه ( درمسالونه ) په څلورو ښارونو کې موجود دی. دوه درمسالونه په کابل کې دی. دهندوانو ۱۸ نور درمسالونه د جنگ په وخت کې یا تخریب شول او یا دجگړو په وخت کې دلوټ او تالان له امله له کار نه ولوېدل.

په افغانستان کې د عېسویانو یوه کلیسا، او دیهودانو یو سیناگاگ یا عبادت ځای موجود دی. یوشمېر اتباع چې د مهاجرت په وخت کې، عېسویت ته اووښتی دی ببرته راستانه شوېدی. نور ښایې په خارج کې په نورو دینی ډلو کې زېږېدلي وی. د بهائیانو فرقې له تېرو ۱۵۰ کلونو راهیسی په افغانستان کې پیروان درلودل. د بهائیانو ټولنه تر زیاتی اندازې پوری په کابل کې مېشته وه. په کابل کې تقرېبا ۳۰۰ بهائیان اوسیږی. نور سل تنه بهائیان، دافغانستان په نورو برخو کې اوسیږی.

## دوېمه برخه : د دینی ازادی څرنگوالی

دقانوني پالیسی / چوکاټ

دنوی اساسی قانون، تعمیل په بشپړ او موثر ډول یوه روانه ستونزه او آزمېښت دی، ځکه چې متضاد تعهدات پکی دی او په عنعنوی ډول داساسی قانون کتنه د قضا له خوا، نه کیږی. دافغانستان اساسی قانون په ۲۰۰۴ مېلادی کال کې د جنوری په مېاشت کې تصوېب شو. په دې کې یوه ماده داده چې دبشری حقوقو په نړیواله اعلامیه باندی به عمل کوی. دولت په دې مکلفوي چې "د ټولنیز عدالت پربنسټ ، یوه داسی سوکاله او پرمختللی ټولنه منځته راولی، چې د انسانانو وقار پکې خوندی وی، بشری حقوق پکې خوندی وی، دیموکراسی پکی منل شوی وي، او دټولو قومی ډلو اوقبیلوترمنځ ، د ملی وحدت اوبرابرئ تامېنول یقینی کړی." د نورو ادیانو پیروان : "آزادی لری چې په خپله عقیده باندی عمل وکړی او خپل دینی مناسک او شعایر د قانون په حدودو کې او دقانون له مقرراتو سره برابر، اجراکړی".

اساسی قانون تقاضا کوی چې جمهوررئیس او د جمهوررئیس مرستیال مسلمان وی او په دې برخه کې د سنی اومسلمان ترمنځ توپیر نه کوی. د امقتضیات د حکومت په وزیرانو، او یا د پارلمان په غړیو باندی نه ا طلاق کیږی. خو دهغوی د وفاداری په لوړه کې داسلام سره وفاداری او داسلام د اصولو اطاعت شامل دی.

په اساسی قانون کې داهم اعلام شوېدی چې اسلام ددولت رسمی دین دی. "یوقانون هم داسلام دمقدس دین او عقایدو د اصولو مغایر نشی جوړیدلی. داسلام دمقدس دین د پیروی اساسات او شرایط او داسلامی جمهوریت اساسات نشی تعدیل کیدلی."
په هغو مسایلو کې چې اساسی قانون او جزایې قانون خاموش وی "په دې کې له اسلام نه

اووښتل او کفروېل" شامل دی. په دغه رازموواردو کې به محکمه په شرعی قانون اتکاکوی.
په دغه برخه کې  بو شمېرتعبېرونه داساسی قانون له دې صلاحېت سره چې وایې "د بشری حقوقو له نړېوالی اعلامېې سره به سم عمل کېږی"، تناقض لری.

په داسی حال کې چې اساسی قانون د شرېعېت په برخه کې کومه خاصه ېادونه نه کوی، خو دا وایې چې که چېری په اساسی قانون کې کومه ماده او مقرره نه وی او یا نور قوانېن چې په ېوه مسله باندی حکم کوی؛ نود محکمی فېصله به د حنفې فقهې او فتوی پربنا داسی برابره وی چې عدالت په بهترېنه اوممکنه توگه  تامېن کړی.

اساسی قانون دا اجازه هم ورکوی چې په شخصی مسایلو کې به چې د قضې دواړه خواوې شېعه وی، شېعه قوانېن تطبېق کېږی. داسی کوم جلا قانون نشته چې په غېرمسلمانانو باندی تطبېق شی.

ددغو رپوټونو د لېکلو په وخت کې، جمهوررئېس د شېعه گانو د کورنېو مسایلو په قانون باندی امضا وکړله. په دغه قانون کې داسی مادی راغلی دي چې د ډېرو ملی او نړېوالو کتونکو په عقېده داساسی قانون له هغو احکامو نه سرغړونه ده چې د ښځو اونارېنه و لپاره د برابرو حقوقو په برخه کې اعلام شوېدی.

دملی او نړېوال فشار له امله، جمهوررئېس موافقه وکړه چې ددغه قانون تعمېل ترهغه وخته پورې وځنډوی چې د عدلېې وزارت پرې کتنه وکړی او تعدېلات  پکې راولی.
د عدلېې دوزارت له خوا، ددغه قانون دکتنی بهېر ددی رپوټ د لېکلو تروروستی گړی پورې جاری و.

ددغه قانون داصلی نسخی پر خلاف داعتراض لپاره ېوشمېر ښځو په کابل کې عمومی مظاهرې و کړلی او ددغه قانون پرضد ېې  شعارونه  ورکړل.  ددغه قانون په ملاتړ کې هم (دېوشمېر ښځو په شمول) مظاهری وشوی. دافغانستان چارواکو دواړومظاهرو ته اجازه ورکړه او دهغوی امنېت ېې تامېن کړ. په دغو مظاهر و کې د چا د سخت زخمی کېدلو رپوټونه ندی ورکړل شوی.

له اسلام نه ا ووښتل ارتداد گڼل کېږی او  سزا ېې د شرېعت له خوانه مرگ دی. د افغانستان هغه تبعه چې له اسلام نه واوړی ( له ۱۸کلنی نه پورته  هلک اوله  ۱٦ کلنی نه پورته نجلی، چې عاقل او عاقله وی ) نودوی به دری ورځی وخت ولری چې په رسمی ډول د خپلی پرېکړی نه تېر شی اوکه نه نو سزا به ېې مرگ وی او په دار به وځړول شی. په دې لړکې، دغه راز اشخاص خپل ملکېت او دارایی له لاسه ورکولی شی او نکاح ېې غېرقانونی اعلان کېږی. دافغانستان په جناېې قانون کې له دېن نه اووښتل یا مرتد کېدل د جرم په توگه

ندی تعرېف شوی. اساسی قانون دهر جرم په مقابل کې چې په جناېي قانون کې د جرم په توگه تعرېف شوی نه وی، د سزا ورکولو ممانعت کوی. په دې نېژدی کلونو کې محلی اود مرکزی حکومت چارواکو خلکو باندی جزاېي قانون د اسلام نه په اووښتو ندی تطبېق کړی.

مقدساتوته توهېن د شرېعېت د ځېنی تعبېراتوله مخی هغه جرم دی چې سزا يې مرگ ټاکل شوېده. ددغه راز تعبېراتو له مخی اسلامی قاضی مقدساتوته دتوهېن اوسپکاوی په مقابل کې دمرگ سزا ورکولی شی. که چېرې دا جرم له هغه نارېنه نه چې عمرېې د اتلس کلونو وی او له هغې نجلی نه چې عمر ېې د شپاړس کلونو وی، او عاقلان وی، وشی نو قاضي دمرگ سزا ورکولی شی.

هغه څوک چې دمقدساتو د توهېن په جرم تورن شی، هغه ته دری ورځی وخت ورکول کېږی چې خپل عمل رسماً تکذېب کړی او که نه نو د مرگ سزا به ورکړل شی او په دار به وځړول شی. په دې نېژدی کلونو کې دا سزا په چاباندی عملی شوې نده.

د احتساب او دارالافتی رېاست چې د ستر ې محکمی تر مشرتابه لاندی کار کوی، حکم کړېدی چې د بهائېانو عقېده له اسلام نه جدا اومختلفه ده اومقدساتو ته يو ډول توهېن دی. په دغه حکم کې وېل شوېدی چې هرمسلمان چې بهائې عقېده اختېار کړی هغه مرتد دی اود بهائېې عقېدې ټول پېروان کافران دی. دغه حکم دافغانستان د بهائېانو کوچنی ډلی ته دشک او تردېد نه ډک حالات منځته راوستل. په خاص ډول هغوی د بهائې عقېدې دېوې ښځې دواده په برخه کې له بل مسلمان سره له شک اوتردېد سره مخامخ شول.

هغه اتباع چې له اسلام نه بهائې عقېدی ته واوړي، هغوی له تعقېب او آزار سره مخامخ کېدل عېنا لکه هغه کسان چې عېسوېت ته په اووښتلو له تعقېب اوشکنجی سره مخامخ کېدل. ان تردی چې خبر ه دمرگ ترسزا پورې هم رسېدله. داهم څرگنده نده چې حکومت به د بهائېانو دوېم نسل سره څه سلوک وکړی. هغوی خو په بهائې کورنېو کې پېدا شوېدی، نه داچی بهائېت ته اووښتی وی.

خو ښائې ډېرو ته لا تراوسه پورې هم په دې نظر وکتل شی چې مقدساتو ته يې توهېن کړېدی. دغه حکم پر خارجي بهائېانو، نه اطلاق کېده.

په افغانستان کې د واده کولود قانون له مخی ېو غېرمسلمان دا حق نلری چې واده وکړی که په افغانستان کې زېږېدلی وی او که په بل ځای کې.

د حکومت چارواکی وايې چې لدی امله چه محکمه دافغانستان ټول اتباع مسلمانان بولی نوپه دې توگه ېو غېرمسلمان واده کولی شی خو چې په ښکاره باندی دخپلوغېر اسلامی عقاېدو

اظهار ونکړی. پردی سر بېره، قاضیان وایي چې یومسلمان سړی له یوې غېرمسلمانی سره واده کولی شی خو که چېرې هغه اهل کتاب نه وی ( عیسوی یا یهوده نه وی) نو هغه باید اول مسلمانه شی. خو یوه مسلمانه ښځه دا اجازه نلری چې له یوغېر مسلمان سړی سره واده وکړی.

یوازې داسلام سپېڅلې ورځی د عمومي رخصتیو په توګه لمانځل کیږی. شیعه ګان په ښکاره باندی د امام علی د زیږیدو نیټه لمانځی. امام علی (حضرت علی کرم الله وجهه) د شیعه ګانو په عنعناتوکې د ډېرزیات درناوی وړ شخص ګڼل کیږی. په ۲۰۰۸ م او ۲۰۰۹ میلادی کلونو کې د شیعه ګانو له خوا د عاشورا رخصتی ګانی دجنوری په میاشتوکې د سولی په فضا کې، ولمانځل شوی. دعاشورا د رخصتیو لمانځلو په هرات اوکابل کې مرګ ژوبله او تشدد راوپاراوه.

دافغانستان حکومت د خپلو موجوده جنایې او مدنی قوانین تجدید ته دوام ورکړی او دهیواد د نړیوالی موافقې له مسؤلیتونو سره یې برابر کړی. د ۱۹۷۶ کال جزایې قانون اتلسم فصل : (د دین خلاف جرایم) که څه هم مقدساتوته د توهین دالفاظو حد اوبرید نه ټاکی، خو ددغه فصل ۳۴۷ مه، ماده وایي چې هغه اشخاص چې په زور باندی ددینی مراسموچاری بندی کړی، او هغه اشخاص چې دعبادت ټاکل شوی ځایونه، هغه چې دینی مراسم پکی په ځای کیږی، وران کړی یا خساره ور ورسوی، او یا هغه څوک چې دکوم دین نښه او یا سمبول وران او یا زیانمن کړی؛ هغوی به دبند په منځنی موده محکوم شی. ( دا مسله دافغانستان د جزایې قانون په ۱۰۱ ماده کې تعریف شویده، دبند موده به یې له یوکال نه کمه او د پنځو کلونونه به زیاته نه وی). او یا به په نغدی جریمه محکوم شی چې اندازه به یې د ۲۴۰ ډالرو او ۱۲۰۰ ډالرو ترمنځ ( د ۱۲،۰۰۰زرو او ۶۰،۰۰۰ زرو افغانیو ترمنځ) وی.

په جزایې قانون کې د ویښا او یا لیکنی په برخه کې چې هغه دې د الله تعالي خلاف، ددین خلاف، یا مقدساتو او دینی کتابونو خلاف توهین امېزه او سپک الفاظ وګڼل شی، څه ندی ویل شوی.

داسی کوم قانون نشته چې له دین نه اړول ممنوع کړی که څه هم ډېر تکړه عالمان او د ټولنی ډېره زیاته برخه دغه عمل ته داسلامی عقایدو خلاف عمل په نظر ګوری. هغه رپوټونه چې تصدیق شوې ندی، وایي چې عیسویان په دې سبب بېرول شویدی چې فکر شویدی چې هغوی بل دین ته په اړولو کې دخالت لری. هغوی هغه چاته خپله عقیده ښکاره کوی چې اعتبارورباندی لری خو ډېر احتیاط کوی چې په داسی نظر ورته ونه کتل شی چې غټو ټولنو ته دخپلې عقیدې د خپرولو هڅی کوی. دافغانستان اساسی قانون د بیان آزادی او دمطبوعاتو د آزادی ساتنه کوی. دافغانستان د مطبوعاتو قانون چې ددین او بیا ن دآزادی په برخه کې یې منفی مادی لرلې، جمهوررئیس کرزی ویټو کړ او د ۲۰۰۷ کال د ډیسمبر په میاشت کې یې

د اولسی جرگی ته د زیات غور او تعمق لپاره واستاوه.

د ۲۰۰۸ کال د سپټمبر په ٦ـ مه باندی، په پارلمان کې له درو نه په دوه برخو رایو باندی د جمهوررئیس ویټو رد شوله. خو سره له دې هم ددغه رپوټ د لیکلو دمودی تر پای پورې دعدلیې وزارت دغه قانون په خپله رسمی جریده کې خپور نکړ. همدارنگه ددغه رپوټ د لیکلو دوخت تر پایه پورې دمطبوعاتو قانون لا د جمهوررئیس په دفتر کی و.

ددغه قانون د ۴۵ ـ مې مادی پراساس چې پارلمان ته لیږل شوی وه، دالاندینی شیان ممنوع دی: هغه اثار او مواد چې داسلامی اصولو خلاف وی؛ هغه اثار او مواد چې په نورو ادیانو او فرقو باندی تیری گڼل کیږی؛ هغه اثار او مواد چې واقعی او یا قانونی اشخاصو ته توهین امیزه او تیری کوونکی بلل کیږی؛ هغه اثار او مواد چې واقعی او قانونی اشخاصو ته اتهام وگڼل شی او ښایې چې هغه دهغوی شخصیت او اعتبار ته تاوان ورسوی؛ هغه اثار او مواد چې دهیواد په ثبات، ملی امنیت ، او دخاوری په تمامیت باندی ناوړه اغیزه کوی؛ په درواغو لیکل شوی ادبی اثار، مواد او هغه رپوټونه چې په عامو خلکو کې گډوډی راولی، یا داسلام نه پرته دنورو ادیانو لپاره تبلیغ کول؛ دمرگ ژوبلی، تشدد، او د زنا باالجبر د قربانیانو د عکسونو او هویت خپرول، په داسی توگه چې دهغوی ټولنیز حیثیت ته تاوان ورسوی؛ داسی مقالی، او مسایل خپرول چې هغه دخلکو بدنی، روحی او اخلاقې سوکالی ته، په تیره ماشومانو او تنکیوځوانانو ته تاوان رسوی.

همدارنگه د مطبوعاتو له قانون سره سم د ورځپانو، د چاپ ماشینونو او بریښنایې رسنیو کمپنی باید جواز نامی ولری او خپل نومونه د اطلاعاتو او کلتور له وزارت سره ثبت کړی. داکار، دافغانستان په لیکلی قانون کې، د مطبوعاتو استعمالول په رسمی توگه ممنوع کوی چې یو مسلمان له اسلام نه پرته بل دین ته نشی اړولی. هرډول هڅه چې یومسلمان بل دین ته واړول شی؛ هغه همدا اوس هم په اساسی قانون کې غیر قانونی کار دی (اساسی قانون، شریعت دنور و قوانینو بنسټ گڼی او هیڅ ډول قانون باید له اسلام سره مغایر نه وی) که هغه د مطبوعاتو له لاری او که په بل ډول.

په دې برخه کې ابهام، چې توهینونکی مواد څه دي، دا امکان منځته راولی چې د مطبوعاتو په آزادی باندې تیری وشی او خبریالان وبیرول شی. دا قوانین په غیراسلامی مطبوعاتو چې دخارجیانو وی هم دتطبیق وړ دی. دمطبوعاتو اصلاح شوی قانون دافغانستان ملی راډیو او تلویزیون ته چې سرکاری دی هدایت کوی چې داسی متوازنی خپرونی وکړی چې دخلکو دکلتور، ژبی ، دینی عقایدو، او د ټولو قومی ډلو چې په دې هیواد کی اوسیږی احترام وکړی. په قانون کې داهم ویل شویدی چې د مطبوعاتو له قانون نه د سرغړونی د شکایاتو کومیسیون، مسؤلیت لری چې شکایات واوری او د مطبوعاتو له قانون نه د سرغړونو دادعاگانو په باب تحقیقات وکړی.

د علماو شوری چې د ستری محکمې پخوانې قاضی القضات فضل هادی شېنواری یې رئیس دی، د سنی او شیعه علماو، متصوفوعلماو اوامامانو یوه بانفوذه ډله ده. په دې کې دهېواد هری برخې قاضیان چې دولایتونو د علماو د شوری ګانو د شبکې ځرګندونه کوی شامل دی. ددغی شوری معتبر علما په منظمه توګه له جمهوررئیس سره ملاقات کوی او داسلامی روحیاتو، اخلاقو او قانونی مسایلو په باب ورته سلامشوری ورکوی.

دغه شوری تش په نوم باندی له حکومت نه مستقله ده خو غړی یې له دولت نه مالی کومکونه ترلاسه کوی. له جمهوررئیس، پارلمان، او وزیرانو سره د روابطو له امله دغه شوری او یایې غړی دنویو قوانینو د جوړولو او یا د موجوده قوانینو د تعمیل په برخه کې سلامشوری او توصیه کوی. که څه هم دولایاتو په مرکزونو کې ددی ډېره ښه نماېندګی کیږی خو دغی شوری کلیو او کلیوالی سیموته ډېره کمه رسیدګی کړیده.

د ۲۰۰۷ م کال په نومبر کې دعلماو شوری یو ه اعلامیه خپره کړه چې د بیان او مطبوعاتو په آزادئ کې یې داعتدال غوښته کوله. هغوی یوځه اشخاص دیته هڅول چې له داسی اعمالو نه ځان وساتی چې هغه ښایې ځاېې عنعناتو او دینی ارزښتونو ته توهین امېزه وګڼل شی.
په اعلامیه کې لیکل شوي وو چې: ( دملی ناموس او عزت ساتنه او داسلامی ارزښتونو ساتنه دهر تبعه مسوولیت دی.) دغه اعلامیه د اساسی قانون د اولی مادی ځرګندونه کوی. دغه ماده په ډیرو دعوو کې تطبیق شویده؛ د مثال په توګه د پرویز کامبخش په برخه کې هم تطبیق شوه او هغه یې شل کاله بندی کړ.

پرویز کامبخش په انټرنیټ کې داسی مواد خپاره کړی وو چې په اسلام کې یې د ښځو د شرایطو په باب پوښتنې رامنځته کولی.

دافغانستان د بشری حقوقو مستقل کومېسیون د دینی آزادی دمشهورو قضایاو څارنه کوی. په دې برخه کې خلک هغوی ته شکایات کوی او هغوی یې څیړنه کوی. ددغو مسایلو د ریوټونو د لیکلو په وخت کې د ټولو ولایتونو امنیه قوماندانئ او د بشری حقوقو ماموران د تیریو په تحقیق لګیاوو. که څه هم ددغو کسانو شمیر زیات دی خو د زیاترو نور ادارو په څیر هغوی په کافي اندازه پرسونل او نوری منابع نلری.

دحج اواوقافو وزارت ددغه هېواد داسلامی چارو د بندوبست کولو اصلی اداره ده. ددغه وزارت یوه وظیفه داده چې اتباع د حج زیارت ته ولیږی. دبسپنو او مرستو عوایدو ټولوی، دوقف ځمکی تشخیص کوی او لاسته یې راوړی، ماشومانو ته دینی تدریس او زده کړه ورکوی. فتواګانی صادروی، امامان مقرروی. عام خلک له دینی مسایلونه خبروی.
دواړه سنی اوشیعه ډلی اجازه لری چې حج ته ولاړشی، ددواړو ډلو په برخه کې حکومت کومه ونډه نده ټاکلی .

حکومت په دې برخه کې تقریبا ۲۰۰۰ شیعه گانو، او ۱۸ زره سنیانوته شرایط برابر کړېدی چې په ۲۰۰۸ م کال کې حج ته لاړشی. هغو خلکو چې د حج په مراسمو کې برخه اخېستی وه؛ هغوی د پچې اچولو یا قرعه کشی په حساب انتخاب شوی وو. نورو لس زرو کسانو د شخصی اعانو په مرسته حج وکړ. د دینی ډلو لپاره د جواز اخېستل، او یا د نومونو ثبتول لازمی ندی. که څه هم حکومت دملایانو نومونه ثبتوی. هغه ملایان چې د حج او اوقافو د وزارت لپاره کار کوی هغوی د ځایي اوسېدونکو له خوا پیشنهاد کیږی او دوزارت له خوا منظورکیږی. په افغانستان کې دیو اټکل له مخی ۱٦۰،۰۰۰ ملایان کارکوی. دهغوی له جملی نه ۳،۲۵۰ ملایان د حج او اوقاف له وزارت سره رسمی ماموران دی او تنخواه اخلی. په کابل کې د یو تخمین له مخی ۱،۱۸۰ ملایان کارکوی. دهغوی له جملی نه ٦۲۸ ملایان د حج اواوقاف له وزار ت نه تنخواه اخلی ( ددوی شمېر هم په هغو ۳،۲۵۰ملایانوکې شامل دی چې په ټول هېواد کې موجود دی.)

ډېر ملایان له وزارت سره په دی سبب ثبت نام شوي ندی چې په وزارت کې مالی امکانات نشته چې په جوماتونو کې دنورو ملایانو سره مرسته وکړی. له دې سره په ولایتونو کې دامنیت ستونزه هم موجوده ده. نوي جوماتونه یا خلاصیږی او یا د حکومت دانکشافي پلان پراساس جوړیږی؛ او یابې ځایي خلک غوښتنه کوی. ترهغی وروسته یې د حج او اوقافو وزارت منظورروی.

دافغانستان د ښوونی اوروزنی وزارت داد حکومت مسوولیت گڼی چې ځوانانو ته معاصر اسلامی تعلیمات برابرکړی. د ۲۰۰۷ مېلادی کال د اپریل په مېاشت کې حکومت دخپلو مدرسو په تاسېس باندی پیل وکړ؛ ددې لپاره چې دهغو ماشومانو شمېر کم کړی چې د افراطیانو په مدرسو کې په خارج کې درس وایی؛ ددې کار بل مقصد داو چې دهغو افراطی عناصرو نفوذ کم کړی چې په کلیو او لیری سیمو کې فعالیتونه کوی. په دې کې هغه مدرسی هم شاملی دی چې په مستقل ډول چلیږی. دامدرسی پلان لری چې د طالبانو دمدارسو لپاره متبادل تعلیم پیدا کړی، ځکه هغوې د مدرسو له تعلیم نه د تروریزم دوسلی کار اخلی. خو د بودجې او مالی امکاناتو له امله ددی پلان مخه نیول شویده. څوارلس مدرسی چې دارالعلوم ورته ویل کیږی په ۲۰۰۷ مېلادی کال کې تاسېس شوی او په ۲۰۰۸ مېلادی کال کې اته نور دارالعلومونه تاسېس شول. په پلان کې داهم ده چې په هرولایت کې به یوه مدرسه تاسېس شی. په دې توگه به دافغانستان ۳۴ ولایتونه هریو، یو دارالعلوم ولری.

دمالی امکاناتو د کموالی له امله دنویو ښوونځیو دتاسېسولو پرمختګ ځنډېدلی دی. پلان شوي ښوونځی به تقریبا ۵۰،۰۰۰ زرو ماشومانو ته د زده کړی شرایط برابرکړی. تعلیمی نصاب به یې داسی جوړ شوی وی چې په سلو کې ۴۰ به دینی زده کړه وی او په سلو کې ۴۰ به عمومی تعلیم وی او ۲۰ فیصده به کمپیوټرساینس او خارجی ژبی وی.

دافغانستان د ښوونی اوروزنی وزارت له مستقلو مدارسو نه غوښتی دی چې رسمی جوازواخلی او دخپلومالی امکاناتو منابع څرګندی کړی. هغه مدرسی چی شخصی بسپنی او یا نړیوالی بسپنی ترلاسه کوی که هغه د ښوونی او وروزنی دوزارت له لاری نه وی نو هغه به بندی شی. دافغانستان د ښوونی او روزنی وزارت وایې چې حکومت په دې کار پیل کړیدی چې د هرې سطحی دمدرسی لپاره له اسلامی هېوادونو او اشخاصو نه مالی ملاتړ وغواړی. په دې کې هغه غوښتنه هم شامله ده چې دسعودی عربستان حکومت په افغانستان کې یوه مدرسه تمویل کړی.

دښوونی اوروزنی وزارت په خوست کې د شیخ زید دپوهنتون یادونه وکړه چې ددې یالیسی بوکامیاب مثال دی. داپوهنتون په بشپړډول دمتحده عربی اماراتو له خوانه تمویلیږی. دانظام دافغانستان حکومت ته اجازه ورکوی چې د زده کړی انستیتیوت ته دمرستی شرایط چی دافغانستان دمعلومو متحدینو له خوانه کیږی کنترول کړی.

دتعلیمی نظام هغه اجزاوی چی له دیرشو کلونو نه زیاتی مودی په جنګ کې ژوندی پاتی شولی په هغو کې زښت ډیر ټینګار په دین باندی شویدی.

اساسی قانون وایې : (دولت باید واحد تعلیمی نصاب، داسلام مقدس دین داصولو پربنسټ جوړ او عملی وکړی. په د ې کې به ملی کلتور او علمی اصول په نظر کې نیول کیږی، او ددینی مضامینو تعلیمی نصاب به په داسی ډول جوړیږی چې په افغانستان کې موجودی اسلامی فرقی په نظر کی نیول شوی وي.) د ښوونی اوروزنی تعلیمی نصاب کې اسلامی اصول شامل دی خو دنورو دینی ډلو مسایل پکی شامل ندی.

د پلرونو او میندو له خوا د دینی زده کړی په ورکولو کې محدودیت نشته، په غیرمسلمانانو باندی داسلام لوستل لازم ندی. دملی تعلیمی نصاب کتابونه چې په معتدلو اسلامی اصولو باندی ټینګار کوی، په ښوونځیو کې جهادی تعلیم او تبلیغ په منظم ډول دهغوی ځای ونیو. دښوونی اوروزنی وزارت د بشری حقوقو مضمون د ښوونځیو په ملی نصاب کې په ۲۰۰۳ کال کې داخل کړ او په ټول هیواد کې تر ۲۰۰۴ میلادی کال پورې خپور کړ. په ټول هیواد کې له اول صنف نه تر شپږ م پورې نوي درسی کتابونه توزیع شول.

دافغانستان د ښوونې اوروزنی وزارت، داوم صنف نه تر دولسم پورې صنفونو لپاره دتعلیمی نصاب په کتابونو باندی کارکوی.

د طالبانو د سقوط نه راپه دیخوا، دافغانستان حکومت کوم سیاسی ګوند د دینی دلایلوپر بنسټ ممنوع کړی ندی. اساسی قانون سیاسی ګوندونو ته اجازه ورکوی چې : (پروګرام او منشوریې داسلام د مقدس دین د اصولو خلاف نه وی). دافغانستان قانون هغو سیاسی

گوندونو ته اجازه نه ورکوی چې د قومیت ، ژبی، خاص اسلامی مذهب او یا دین پربنسټ جوړ شوی وي.

**په مذهبی ازادۍ باندی محدودیتونه**

حکومت په عمومی ډول موجوده قانونی محدودیتونه په دینی آزادی باندی - په قوت سره او یا په تبعیضی ډول- تطبیق نه کړل. دیوه ملا په روزنه باندی، دمحدودیتونوپه اړه په عمومی ډول هیڅ معلومات موجود نه وو. حکومت هغو ملایانوته معاش ورکاوه چې په رسمی ډول یې نومونه له حکومت سره ثبت دی. خوبوازې کم شمیر ملایان په فعال ډول له حکومت سره په رسمی ډول موجود دی، ځکه چې د حکومت د ثبت نام پروګرام، په محدوده بودجه باندی چلیږی او کم مامورین لری.

په دغه هیواد کې نامعلوم شمیر خارجی مبلغین په ډیر احتیاط کارکوی چې له تهدید او تخویف سره مخامخ نشی. په دغه هیواد کې داسی غیراسلامی موسسی چې دینی بنسټ ولری او منل شوی مقصد یې بل دین او نظر ته اړول وی، نشته. ددغه رپوټ د لیکلو پر وخت یو څو داسی پیښنی وشوی چې یوشمیر افرادو کوشش کاوه چې خلک بل نظر او دین ته واړوی خو د هغو پیښنو په سبب څوک محاکمه نشول.

که څه هم داسی رپوټونه شته دی، چې د ځایی حکومتونو چارواکی خلک له موسیقي ، سینما او دتلویزیون له خپرونو نه د دینی دلایلو پر بنا منع کوی خو د کیبل تلویزیون لیدونکی په ښاری مرکزونو کې مخ په زیاتیدو دی. تلویزیون ، راډیو، او نور برقی سامان الات په ازادانه ډول خرڅیدل. موسیقی په پراخه پیمانه غږول کیدله. د حکومت چارواکوپه څرګند ډول دمطبوعاتو شخصی اداری دداسی پروګرامو په خپرولو وغندلی چې غیراسلامی پروګرامونه یې خپرول. په دغو پروګرامونو کې دموسیقې په ویډیو ګانو کې د ښځو نڅا اویا دموسیقې په پروګرامونو کې دښځو هنری اجرأت شامل وو.

غیرحکومتی راډیوګانی، دافغانستان ، هند ، پاکستان او یاغربی ساز سره ګډی سندری خپروی. دیوه رپوټ له مخی دهیواد په سلو کې ۹۰ کسان راډیو اوریدلی شی. په سرکاری راډیو ګانو کې، خپرونی، دینی محتویات نلری یوازې مختصره دوعا او د قرانکریم تلاوت پکی خپریږی.

په افغانستان کې د سکانو او هندوانو ټولنی داغوره ګڼی چې خپل ماشومان د سکانو او هندوانو ښوونځیو ته ولیږی او یایې له سره ونه لیږی، ځکه رپوټونه وایې چې په حکومتی ښوونځیو کې، دهغوی پرماشومانو باندی، دنورو شاګردانو له خوانه تیری کیږی او بیرول کیږی. دعیسویانو او یهودانو لپاره مکتبونه نشته.

د تېرو کلونو په څېر، هندوانو شکايت وکړ چې دوی نه شی کولای چې خپل مړی، دخپل دود او دستورسره سم وسوځوی؛ په دې کې دهغو خلکو له خوانه لاسوهنه کېدله چې د هندو سوزان خواته به اوسېدل. خو حکومت په دې کې مداخله وکړله اودهندوانو او سکانو دا حقوق يې خوندی کړل چې هغوی خپل مړی وسوزوی. که څه هم د هندوانو اوسکانو د ټولنی استازو د ځمکی په سردشخړو له امله اندېښنی څرګندی کړی، هغوی معمولا دمحاکمو له لاری نه تاوان نه غواړی، ځکه له بدل اخېستلو نه وېرېږی. په تېره په داسی وخت کې چې کوم زوررور، ځايې مشر دهغوی جاېداد نېولی وی. د حکومت له خوانه دهندوانو خلاف د توپيری سلوک ښکاره رپوټونه، ندی لېدل شوی.

حکومت جوماتونو ته وړيا برېښنا ورکوی. په دې توګه سکانو او هندوانو هم له حکومت نه خواست وکړ چې ددوی درمسالونو ته هم وړيا برېښنا ورکړی خو حکومت ددې رپوټ د لېکلو تر پایې پورې ددې غوښتنی چاره نه وه کړی.

ددېنی کتابونو په واردولو باندی کوم قانونی بندېز نشته، خو لږ ترلږه ددې لېکنی د لېکلو په وخت کې يوه پېښه منځته راغله چې حکومت د شېعه مذهب په برخه کې يو شمېر کتابونه له منځه وېوړل. د اطلاعاتواو کلتور وزارت او دځوانانو د معينېت په ۲۰۰۹ م کال کې د می په ۲۷- مه اعلان وکړ چې دوی د شېعه مذهب په باب لېکل شوی کوم ۱۰۰۰ زر ټوکه کتابونه نېولی او خراب کړېدی. داکار د ۲۰۰۸ م کال په اخرو کې دنېمروز په ولاېت کې وروسته له هغه نه شوی وچې کتابونه دغه ولاېت ته رسېدلی وو. داکتابونه په ايران کې چاپ شوی وو او په کابل کې يوه کتاب خرڅوونکی راغوښتی وو. داطلاعاتو او کلتور وزارت اعلان وکړ چې دا کتابونه په سېند کې غورځول شوی دی، ځکه چې دافغانستان وحدت ته زېانمن ګڼل کېدل. په دغو کتابونو کې داسلام داسی تعبېر شوی و چې په سني مسلمانانوباندی تېری ګڼل کېږی.

حکومت دخلکو په تذکره کې دهغوی دېن نه معلوموی او دا يې نه لازموی چې ددې لپاره چې دافغانستان تبعه وګڼل شی نو اسلام باندی دې خپله عقېده اعلان کړی. دولت او محکمی په عنعنوی ډول دافغانستان اتباع مسلمان ګڼی. په همدی سبب د يو شمېر غېر مسلمانو د تابعېت حقوق په صراحت باندی په قانون کې ندی تدوېن شوی.

**په مذهبی ازادېو باندې تــېــري**

چارواکو داسی اقدامات کړېدی چې دېوشمېر افرادو او ډلو په دېنی ازادئ باندی يې تېری کړېدی. د ۲۰۰۸ م کال د سپتمبر په مېاشت کې دکابل يوې ابتدايې محکمی غوث زلمی او ملاقاری مشتاق په دې سبب په شل کاله بند محکوم کړل چې د قرآن کرېم، دري ترجمه يې له عربی آېتونو نه پرته -- چې دېرتلی لپاره کارول کېږی - خپره کړی وه.

دېنی علماو ادعا وکړله چې داترجمه په دې سبب غیر اسلامی وه چې دشراب څښلو، خیرات غوښتلو، د هم جنسو ترمنځ د جنسی اړیکو او زنا په باب راغلی ایتونه یې غلط ترجمه کړی وو. غوث زلمی او قاری مشتاق ته د سزا ورکولو لپاره په مختلفو ښارونو کې مظاهری وشوی. په دې کې په ۲۰۰۷ م کال کې دنومبر دمیاشتی مظاهره چې په جلال اباد کې وشوه هم شامله وه. رپوټ وایي چې په دغه مظاهره کې د پوهنتون ۱۰۰۰ تنو شاګردانو برخه اخیستی وه او ددواړو کسانو لپاره یې دمرګ غوښتنه کوله.

د ۲۰۰۹ کال د فبروری په ۱۵ مه دکابل دمرافعی بوې محکمی دهغوی هریوه لپاره شل کاله قید تائید او تصدیق کړ. دزلمی او مشتاق وکیلانو سمدلاسه دافغانستان ستری محکمی ته خواست وکړ. خو دغه دعوه لاددی رپوټ تر لیکلو پورې نه وه اوریدل شوی.

د ۲۰۰۷ میلادی کال داکتوبر په میاشت کې، پولیسو پرویز کامبخش، دپوهنتون یو شاګرد او د**( جهان نو)**، ورځپاڼی خبریال وروسته له هغه نه ونیو، چې دیوې ادعا له مخی، هغه له انټرنیټ نه، په اسلامی ټولنو کې د ښځې د نقش په باب معلومات اخیستی او خپاره کړی و. د ۲۰۰۸میلادی کال د جنوری په میاشت کې، پرویزکامبخش بوې ځایې ابتدایې محکمی داسلام پیغمبرته داهانت په جرم په مرګ محکوم کړ. دافیصله د شرعی قانون پربنا شوی وه.

کامبخش سمدلاسه، داستیناف غوښتنه وکړله او دلوی څارنوال دفتر دا دعوه د کابل د تمیز محکمی ته راوغوښتله. دمحکمی دڅوورځی غونډی نه وروسته، د ۲۰۰۸ میلادی کال داکتوبر په میاشت کې دکابل د تمیز محکمی په بندو غونډو کې دهغه سزا له مرګ نه شل کاله بند ته راکمه کړله؛ بې له دینه چې دکامبخش مدافع وکیل ته یې خبر ورکړی وی. نړیوالو او کورنیو سیاسی مشرانو جمهوررئیس دیته هڅولی دی چې له خپل صلاحیت نه کار واخلی او کامبخش وبخښی. خو ددی رپوټ د لیکلو تروروستی وخت پورې کامبخش په زندان کی و.

د ۲۰۰۷ میلادی کال دمی په میاشت کې د دارالافتی او احتساب عموی ریاست چې د ستری محکمی ترحکم لاندی کار کوی، د بهائیانو د عقیدې په باب یو حکم صادرکړ. په دغه حکم کې ویل شویدی چې د بهائیانو عقیده له اسلام نه فرق لری او مقدساتو ته د توهین یو ډول دی. ددغه حکم له صادریدلونه وروسته تراوسه پورې کومه دعوه نده را پیداشوې.

**په زور باندی له دین نه اړول**

داسی رپوټ ندی راغلی چې په زور باندی څوک دین ته اړول شوې وی. په دې کې دامریکا هغه نابالغ اتباع شامل دی چې یا برمته شوی وو او یا په غیرقانونی توګه له امریکا نه ایستل شوی وو او یا بیرته اجازه نده ورکړل شوی چې دامریکا متحده ایالاتو ته ستانه شی.

## دپاغېانو، ترهگرو ډلو او خارجی قواو تېري

دتېري کولو، داسی رپوټونه راغلی دی چې ترهگرو ډلو دالقاعده او طالبانو په شمول، په بوشمېر خاصو مذهبی ډلو باندی تېری کړېدی. دا پېښی په دغه موده کې شوېدی چې دا رپوټ پرې لېکل کېده. دتيرو کلونو په څېر، د مذهبی مشرانو وژل، په جوماتونوباندی برېدونه کول، د القاعده او د طالبانو په غړېو پوري تړل شوېدی. منابع رپوټ ورکوی چې د حکومت ضد عناصرپه دی سبب مذهبی مشران په نښه کوی چې هغوی پا له حکومت سره اړيکی لری او پا داسلام په برخه کې بو خاص تعبېر وړاندی کوی.

د AIHRC یا د افغانستان د بشری حقوقو د مستقل کمیسیون درپوټ له مخی په ۲۰۰۸ م کال کې پا غېانو لږ تر لږه لس مذهبی مشران له حکومت سره داړېکو پر بنا ووژل. د ۲۰۰۸ م کال د نومبر په مپاشت کې طالبانو په فراه کې بو دېنی عالم څوورځی وروسته له هغه نه وواژه چی د لمانځه له امامت نه وروسته بې ځان مرگي برېدونه وغندل.

په همدی توگه د نړبوالو موسسو په مسلمانو او غېرمسلمانو مامورانو باندی برېدونه شوی وو، خو دا خبره معلومه نده چې دی برېدونو سپاسی انگېزه درلودله که مذهبی.

داسی ښکاری چې، سپاسی انگېزه، د پاغېانو لپاره، پرمکتبونو باندی، د برېد کولو غټه محرکه قوه وی. د ۲۰۰۸ م کال د دېسېمبر په مپاشت کې دافغانستان د بشری حقوقو مستقل کومېسېون رپوټ ورکړ چې د ۲۰۰۸ م کال په تېرو ۷ مپاشتوکې، طالبانو ۲۲۶ ښوونکې او زده کوونکی وژلی دي. خو د ښوونی اور وزنی وزارت رپوټ دا شمېر ۱۴۹ تنه ښودلی دی. د ۲۰۰۹ م کال د جون په مپاشت کې پاغېانو د نېمروز ولاېت د خاشرود په ولسوالی کې بوښوونځې ته اور واچاوه.

د ۲۰۰۹ م کال دمې په مپاشت کې د ښوونی اوروزنی دوزارت مرستپال محمد محمود ولی په بوه مرکه کې ووېل چې بوا زې په هېلمند کې پاغېانو د ۷۵ او ۲۲۸ ترمنځ ښوونځی په زور باندی بند کړل. اته ښوونځې بې په بشپړ ډول وسوځول. په دې کې د نادعلی په ولسوالی کې د ۲۰۰۹ م کال په فبروری کې د ښوونځی دنجونو سوځول هم شامل دی. په همدغه ولسوالی کې دېوه ښوونکي، د وژلو نه وروسته هغوی بوبل ښوونځی هم بند کړ.

## ددېنی ازادبو په اړه اصلاحات او مثبت پرمختگونه

حکومت د ټولو اتباعو ترمنځ په پخلاېنه اوهمکاری باندی ټېنگارته ادامه ورکړېده، که څه هم په بنپادی ډول د طالبانو له پخوانبو جنگپالبوسره پخلاېنی ته اندېښمن دی؛ د مذهبی زغم او

تحمل په باب بې هم خپله اندېښنه څرګنده کړېده. حکومت د نړېوالی ټولنی نظر ته د بشری حقوقو په باب مثبت ځواب ورکړېدی، په دې کې ددېن ازادی هم شامله ده. حکومت دقومی او عقېدوی ډلو ترمنځ پخلاېنی ته په غېر مستقېم ډول ادامه ورکړېده. په دې لړکې حکومت د قضاېې، اساسی قانون او بشری حقوقو د کومېسېون له لارې خپل ملاتړ ته په دې توګه ادامه ورکړېده چې په دې موسسو کی د مختلفو قومونو ، او مذهبی ډلو ( لکه سنی او شېعه ) پېروان شامل دی.

دبنځود چارو وزارت، د حج او اوقافو وزارت په ګډه کار وکړچې ښځو ته دا فرصت برابر کړی چې جوماتونوته ولاړی شی. مهاجرېن او غېر اتباع دخپل دېن په عملی کولو کې ازادی لری. په کابل کې د ۲۰۰ او ۳۰۰ ترمنځ دغه راز کسانو په منظم ډول د عېسوېانو په شخصی عبادت ځاېونو کې له ېوبل سره ملاقات کاوه. په دغه هېواد کې ېوازې ېوه عېسوی کلېسا موجوده ده او په دېپلوماتېکه ساحه کې واقع ده. د عامو ملکی خلکو د ورتګ لپاره خلاصه نده. بوداېې خارجېانو، ازادی لرله چې په هغو عبادتځاېونو کې خپل دېنی مراسم سرته ورسوی چې د بوداېې ټولنی دمهاجرېنو لپاره جوړ شوېدی.

حکومت دسکانو د ښوونځېو لپاره محدوده بودجه ېا مرسته برابره کړېده. د ۲۰۰۷م کال د جولای په مېاشت کې د ښوونې او روزنی وزارت دغزنی په ولاېت کې د سکانو او هندوانو دماشومانولپاره ېوښوونځی پرانېست. دسکانو ېو ښوونځی په کابل کې په شخصی توګه دحکومت له مرستونه پرته د څوکلونو راهېسی چلېږی.

د هندوانو او سکانو د ټولنو غړېو رپوټ ورکړ چې دوی نور د حکومت ماموربت ته درخواستونه ددې لپاره نه ورکوی چې پخوا ورسره توپېری سلوک شوېدی. جمهوررئېس کرزی ېو سک دافغانستان د مشرانو جرګی ته په انتصابی ډول وټاکه. هندوانو او سکانو کوشش وکړ چې دهرې ډلی لپاره ېو ه چوکی په پارلمان کې ورکړل شی. هغوی دا دلېل وړاندی کړ چې د کوچیانو لپاره په ولسی جرګه کې لس چوکی خوندی ساتل شوېدی. نو پکارده چې ددوی د ټولنو لپاره هم دېوې ېوې چوکی ونډه ورکړل شی چې دخپلې ټولنی نماېندګی وکړلی شی.

**درېمه برخه : ددېني آزادۍ په برخه کې د ټولنېز درناوي حالت**

داسلام د مختلفو ډلو او څانګو ترمنځ د اړېکو درلودل لاستونزې لری. له تارېخی پلوه، شېعه لړکې، د سنی مسلمانانو له خوانه له توپېری سلوک سره مخامخ دی. څرنګه چې د شېعه ګانو شمېر په حکومت کې زېات شوېدی نود شېعه ټولنی خلاف ، ښکاره توپېری سلوک کم شوېدی. د شېعه ګانو د زېاتېدونکی نفوذ له امله د سنېانو نفرت په پراخه توګه اظهار شوېدی

او اکثره وخت داېران له هلو ځلو سره ټراو ورکړل شوېدی چې غواړی په ځاېې کلتور او سېاست باندی تاثېر وکړی.

زېاتره شېعه ګان، په قوم هزاره ګان دی؛ هزاره ګان، په عنعنوی ډول دنورې ټولنی نه د سېاسی ، قومی او مذهبی دلاېلو پربنا جلا کړی شوی وو. هزاره ګانو پر حکومت تور لګاوه چی مشران ېې پښتانه دی نو په دې سبب له پښتنو سره غوره او امتېازی سلوک کوی او نور لړکی خصوصا هزاره ګان له نظره غورزوی. حکومت په دې برخه کې ډېر زېات کوشش وکړچې ددغه تارېخی تاوترېخوالی چې په هزاره ګانو ېې ناوړه اغېزه کړېده، چاره وکړی، په حکومت کې ېې، دهغوی په مقررولو کې له هغو پالېسو نه هم کا رواخېست چې داقلېتونو او ښځو د پرمختګ لپاره کېږی. که څه هم د غېر رسمی تبعېض د پېښورپوټونه راغلی دی او دهغوی سره سلوک په هرځاې کې تغېېردرلود. شېعه ګان په عمومی ډول ازاد وو چې د حکومت په دفاترو کې په بشپړه توګه برخه واخلی.

د ملګرو ملتونو، دمهاجرېنو د عالی کومېسېون (UNHCR) درپوټ له مخی اسمعېلېان په عمومی ډول ندی په نښه شوی او نه ېې پر خلاف په جدی ډول تبعېض شوېدی. خو په ېوشمېر سېمو کې، دا امکان موجود وچې هغوی له خطر سره مخامخ شی.

غېراسلامی لړکی لکه سکان،هندوان، او عېسوېان له ټولنېز تبعېض اوځورونی سره په دوامدار ډول مخامخ دی، په ځېنی پېښوکې ورسره تشدد هم کېږی. دغه ډول سلوک د حکومت د کوم منظم پلان پربنا نه و، خوحکومت په دې قادرنه و چې ددغه رپوټ په وخت کې روان شراېط اصلاح کړی. هندوان له سکانوپه نسبت د تعصب او ازار سره کم مخامخېږی ځکه چې دهغوی نارېنه دهندوانو په څېر خاصه پټکی نه په سرکوی. که څه هم هندوانو رپوټ ورکړېدی چې خپل ګاونډ ېان ېې په خپلو ټولنو کې کړوی. د سکانو او هندوانو ټولنی دا اجازه لری چې خپل عبادت په ښکاره سرته ورسوی خو د رپوټونو له مخی تبعېض لا ورسره روان دی چې په دې کې بېرونه هم شامله ده او ددی سبب شوېده چې ېوشمېرېې له وطن نه لاړشی. سره له دې چې سکانو او هندوانود خپلو ځمکو د شخړو د اوارولو لپاره د ځمکی او جاېداد خاصه محکمه لرله او خپل مساېل ېې حل کولی شول خو په عمل کې دغو ټولنو ځان خوندی نه احساس کاوه.

دسکانو او هندوانو ېوشمېر ماشومان په دې قادر نه وو چې د حکومت ښوونځېو ته ولاړشی ځکه چې نوروماشومانو کړول. حکومت په دې برخه کې محدود ګامونه اوچت کړېدی چې داماشومان خوندی وساتی او د ښوونځې په چاپېرېال کې له نوروسره ېوځاې زده کړه وکړی. د AIHRC موسسی رپوټ واېی چې دهندوانو ټولنی په کندهارکې په ښوونځېو کې د تبعېض له امله له ځاېې حکومت نه وغوښتل چې د سکانو او هندوانو دماشومانو لپاره جلا ښوونځې جوړ کاندی. خو حکومت ددې رپوټ تر لېکلو پورې دا کار نه وکړی.

ځاېې دېنې چاروا‌کې، د ښځو د جامو او دهغوې له کړو سره خپل مخالفت ته ادامه ورکوي. په کلېوالې سېمو کې، ډېرې ښځې په عامو ځاېونو کې چادرې پرسرکوې چې ټول وجود اومخ بې، د سترګو په شمول پټ وې. د طالبانو له سقوط نه وروسته په ښارونو کې ډېرې ښځې چادرې نه په سروې خو تقرېبا ټولې ښځې ېوډول پېرونې او څپوټکې پرسرکوې. داکار هغوې ېا پخپله خوښه کوې او ېاېې د ټولنې د فشار له امله کوې.

## څلورمه برخه : دامرېکا د حکومت پالېسې

دامرېکا حکومت، د خپلې عمومې پالېسې سره سم، د افغانستان د حکومت له چاروا‌کو سره په دېنې آزادۍ باندې بحث کوې چې بشرې حقوق پر مخ بوزې. دامرېکا دحکومت استازو په منظم ډول د حکومت له چاروا‌کو او داقلېتونو له دېنې مشرانو سره ملاقات وکړ. په دې لړکې له هغوې سره دروان بحث په توګه د سېاسې ، قانونې ، مذهبې ، او بشرې حقوقو په اړه او د هېواد په بېارغونه کې دهغوې پر نقش باندې خبرې کېږې. دامرېکا حکومت دمدنې ټولنو له موسساتو سره ددې لپاره کاروکړ چې ددېنې اختلافاتو لپاره د زغم د زېاتولو په لور پرمختګ وکړې.

دامرېکا سفارت په فعال ډول دامرېکا دمتحده اېالاتو او ځاېې خلکو ترمنځ د مسلکې او کلتورې اړېکو د پرمختګ لپاره کار وکړ. د سفارت دعامه اړېکو څانګې ډېر داسې پروګرامونه برابر کړېدې چې په هغو کې وېناوال، هنرې، اومعلوماتې پروګرامونه شامل دې. دا پروګرامونه د نظرېاتو د تبادلې لپاره دامرېکا ېانو او ځاېې خلکو ترمنځ په دېموکراسې، مدنې ټولنې، بشرې حقوقو، په امرېکاکې د اسلام، او نورو موضوعاتو په باب مساېل شامل دې.

دامرېکا حکومت په دې لړکې د ځاېې خبرېالانو، پوهانو، سېاستمدارانو، د حکومت د چاروا‌کو، دېنې عالمانو، ځاېې مشرانو، ښځو، ځوانانو او غېر حکومتې موسسو د چاروا‌کو سفرونه امرېکا ته ددې لپاره تموېل کړېدې چې هغوې په امرېکا کې له خپلو انډولانو او هم مسلکانو سره لېدنې کتنې وکړې او نظرېات تبادله کړې.

که څه هم دامرېکا د نړېوالو ملاقات کوونکو او مشرتوب د پروګرام له لارې د ۲۰۰۵ او ۲۰۰۸ کلونو ترمنځ ملاېان امرېکا ته ندې راوستل شوې، خو دامرېکا سفارت د ۲۰۰۹ مالې کال لپاره ددغه پروګرام له لارې ېوشمېر نومول شوې کسان منلې دې. په دې کال کې به دا پروګرام، مذهبې مشرانو پاملرنه وکړې او ددېنې ازادۍ زېاتوالې به وهڅوې.

د بېارغونې ولاېتي ټېمونو (PRT) دامرېکا دنظامي قوماندانانو د عاجلو مرستود پروګرام له لارې مرسته کړېده چې د ځاېې ټولنو مدرسې ترمېم شي. ددې رپوټ د لېکلو په وخت کې دامرېکا پوځ دا پلان درلود چې دنهو مدرسو او ۸۳ جوماتونو په ترمېم، بېا رغونه، او لوازمو په برابرولو کې مرسته وکړي.

دامرېکا حکومت دمدنې ټولنو له موسساتو سره کاروکړچې دېنې زغم پرمخ بوزي. ددغه رپوټ دلېکلو په وخت کې دامرېکا حکومت دراډېو د پروګرامونو او دېنې، انتخاب شوېو چاروکو، او ټولنې د مشرانو د روزنې لپاره مالي مرستې ورکړلې. دروزنې ددغه پروګرام موضوع داوه چې بشرې حقوق، د ښځو حقوق داسلام له نظره څنګه دي. دا پروګرام دهغې غېر حکومتې موسسې چې د مساوې لاسرسي (Equal Access ) په نامه ېادېږي جوړشوې او تعمېل شوې و. تراوسه پورې په دغه پروګرام کې د ۴۰۰ دېنې علما، او د ټولنې مشران روزل شوېدي.

دامرېکا حکومت د( ګرد مېز) ۸ پروګرامونو ته چې په هغو کې له ملاېانو او علماو سره بحث کېده، مالي مرستې برابرې کړېدي. په دې کې دمدنې ټولنې په هکله دهغوې په نظر، او ددغه راز ټولنې په انکشاف کې دهغوې په نقش باندې بحث کېده. په دغه پروګرام کې ٦۴ دېنې مشرانو چې په هغو کې ۱۱ ښځې هم شاملې وې، برخه اخېستې وه.